# دوهمه فیصله

# ۱۳۲۷ ش

۸ د وږي

۳۰ د اګست ۱۹۴۸ ع = ه ق

ځای : په کابل کي

د شاملینو شمېر : ۱۱ تنه د افغانستان او ۸ تنه د پښتونستان ویښو لیډران

ټولي دري پاڼي دي

www.Qamosona.com

ب: د ۱۳۲۷ شمسي کال د سنبلې په ۸ (۱۹۴۸ ع کال د اگست ۳۰) په کابل کښې د پښتو

په غوښتنه د لرې پښتونخوا د (۸)، او د برې پښتونخوا د (۱۱) تنو ليکوالو ترمنځ بحثونه وشو (۱)

په دې بحثونو کښې د (۱۶) اختلافي موادو په اتفاق تصويب شول چه د تصويب صورت به يې د لاندې دوهمې فيصلې

په نامه وړاندې کوو .

د پښتو د رسم الخط ديووالي په باب کښې نوی تصويب :

د افغانستان د پښتو ټولنې چه د جلا لکه د ۳۰ کال په جشن کښې د پېښور ځينې مشهور اديبان کابل ته رابللي وو نو دولته

د پښتو ټولنې د اديبانو او نورو پښتنو پوهانو او د دوی ترمنځ د پښتو رسم الخط په يووالي باندې

خبرې اترې وشوې او په نتيجه کښې ځينې اختلافي شيان فيصله شول د دغه حروف او کلمات

په لاندې صورت ليکل کېږي .

۱- (ڼ) (ڼه) دا حرف به په حلقه وال ن يعني (ڼ) ليکل کېږي او د (ڼه)

د نون قائم مقام به وي . د دې توري نوم به (ڼه) يعني نڼه وي .

۲- د (زه)، (ده)، (بنده)، (ته) په کلمو کښې د (ه) د پاسه د همزه ليکلو ته

ضرورت نشته نو تر مخکښې نه د وړوکي وال او زوروکي وال وروستۍ (ه) به دواړه

يو شان ليکلې شي .

---

(۱) د پېښور له خوا: مولانا عبدالقادر، عبدالخالق خليق، حکيم انوار الحق،
امير حمزه شنواری، محمد نواز خټک، سيد رسول رسا، غانيمو هلالي،
ملک سيد ال شنواری .
د افغانستان له خوا: شمس الدين مجروح، عبدالرؤف بينوا، صديق الله رښتين، قيام الدين خادم،
گل پاچا الفت، مولوي عبيدالله صافي، محمد ارسلان سليمي، عبدالخالق اخلاص، محمد هاشم ميوندوال،
نيک محمد پکتياني، محمد نور خان،

۳- مجهوله (ی) به په منځ کښې په دوه لاندنیو ټکو او معروفه (ی) به دوه څنګ
په څنګ ټکو لیکلې شي لکه: هېر، ميل او په آخر کښې اوږده (ی) او ګرده (ی)
چه ټکي لاندې باندې وي (ي) دواړه صحیح دي.

۴- د پښتو کلمې لکه (رضیتیا او ردبدل) او داسې نورې به په مد نه لیکل کیږي.

۵- (درمې، دې، تو ې، پرې، لاندې، باندې) او داسې نورو کلمو کښې باید زېر
په ځای (ې) ولیکل شي د غه شان (بوخت، ګوډ، ګوته، لومړي، کوچنی،)
او داسې نورې کلمې په (و) صحیح دي.

۶- د (چهاپ ګټې) او داسې نورې کلمې چه په اردو کښې په (ه) لیکل کیږي
په پښتو کښې بې (ه) صحیح دي.

۷- د پښتو (ښ، ږ) به په هغو کلمو کښې لیکل کیږي چه په اول کښې (خ، ش)
او په دوهم کښې د (ګ، ژ) غږونه موجود وي او که صرف یو آواز وي
هغه به په (خ، یا ګ) لیکلی شي، لکه: (خوږ، خواږه، ستوګه) او داسې نور
د غه شان زېره او تعل حالیه افعال به په (ږ) لیکل کیږي لکه: پاخېږي
غوړېږي او نور.

۸- د تلل د مصدر او د هغې د مرکبو مصدرو نو فعل حال به په پښتو (ځ) صحیح دی لکه:
(ځي، راځي، ورځي، درځي، ننوځي) او د باقي نورو داسې مصدرو نو
فعل حال د هغوی په (ږ) لیکل بکاره دی لکه: ګرځي، یږي، غوړېږي، پوهېږي،
کښېنوېږي) او نور به هم په د غه (ږ) لیکل شي.

۹- د ماضي مطلق او حال امر تعلي صيغې چه په الحاقي (و) جوړېږي د هغوی په عربي
(ا) لیکونه ضرورت نشته او بې الفه به لیکل کیږي لکه: وکوت، ولیده، ونوریده، وګوري

۱۰ - د (ږوند، ږی، پیږندل، ږول، ږوړ) دکلمو لیکل په (ږ) تکی (ژ) صحیح دی.

۱۱ - د (ځینی) کلمه چه د بعضی په معنی وی په لیکلو (ځ) او منځنی (ي) صحیح ده او د (ز) په معنی بې (ی)، صحیح ده لکه ځینی خلق، له تا ځنې مې وا خیست.

۱۲ - د (ویل) په ځای باندې (وی) لیکل په شعر کښې ~~په شعر کښې~~ روا دی او بې له شعره په (ویل) لیکل کیږی.

۱۳ - د (کښې) توری لیکل د (بای) په (ې) سره صحیح دی.

۱۴ - د ماضی بعیدې ضمیرونه ئې په دې وروسته صورت لیکل کیږی، (وم، وو، وې، وئ، و، ووه، وه، وې) یعنی د جمع مذکر د پاره (و) او د مفرد مؤنث د پاره (وه) صحیح دی.

15 د (شول) د مصدر افعال په دې شان راځی (وشوم، وشوو، وشوې، وشوئ، وشو، وشول، وشوه، وشوې) یعنی د جمع متکلم په آخر کښې د (وو) او د مفرد مذکر په آخر کښې (و) او د جمع مذکر غائب په آخر کښې (ل) لیکل صحیح دی مگر په جمع مذکر کښې چه کوم بل مصدر مبتدا واقع شی په مخفف (شول او شوو) هم راتلای شی لکه: لیدل شوو) د غه شان په نورو افعالو کښې هم باید د جمع مذکر غائب صیغې په (ل) ولیکل شی لکه هغکان راغلل او دا شی نور.

۱۶ - نو (ما) مطلق ماضی کانې د مفرد مذکر غائب د پاره په موقوف صورت یعنی بې له (ه، ی، و) څخه راځی لکه (ولید، وکوت، وکړ، وغوښت، وجلید) مگر په کومو مصادرو کښې چه موقوف صورت مستعمل نه وی هلته د غه صیغه په نورکی والله (ه) راځی لکه وتاه، وړاه، وداه، وشاه، وغوښاه وګرزاوه په دې قسم صیغو کښې الف لیکل هم ضروری دی.